مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۵/۱۰/۱۵

# د پاکیستان له ستوني

# په افغانستان کې د واکمنۍبدلولو څګېړوی

د افغانستان په ګاونډ کې د پاکیستان تر زېږون روسته، ښايي دا لومړی ځل دی، چې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د واکمنۍ د بدلون هیله څرګنده کړې ده. د خبرونو له مخې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ويلي: «هیله لرو چې یوه ورځ افغان ولس ازاد شي او ریښتینی حکومت ولري!»

د پاکیستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي نه دي، چې ولې افغانستان له هغې واکمنۍ ازادول غواړي، چې د دوی د پوځي استخباراتو مشر یې بریا په کابل سرینا هوټل کې د چايو په پیاله ولمانځله؟ د واک ته رسېدو پرمهال یې په ټول پاکیستان کې مېټایان وېشل کېدل او مبارکیاني یې یوبل ته ویلې؟ څه پېښ شول؟

د پاکیستان د بهرنیو چارو وزارت په وینا کې د «ریښتیني حکومت» تعریف هم نه‌شته.

د دغه وزارت په یاده څګېروېجنه جمله کې څو ځایونه د بحث و تأمل وړ دي، خو تر دې مخکې، راځئ وګورو، چې داسې څه ولې نوي ښکاري؟

هسې خو د ډاکترنجیب الله د حکومت او ملګرو ملتونو د پلان په وړاندې د ۱۳۷۱ لمریز کال له کودتا رانیولې تر نن پورې په ټولو جګړو، حکومت ړنګونو او ناورینونو کې د پاکیستان مخامخ یا نامخامخ لاس له ورایه ښکاري. خو د دغه هېواد له یوه رسمي ارګان څخه په دغه صراحت په افغانستان کې د واکمنۍ د اړولو هیله څرګندونه نوې پېښه ښکاري.

څه موده مخکې د افغانستان یو شمېر سیاسي تنظیمي څېرې په اسلاماباد کې سره راغونډې شوې، چې دې راټولېدنې د بشپړ اکثریت افغانانو غوسه راوپاروله. غوسه پر دې نه‌وه، چې ولې افغان سیاسیون سره راټول شوي، بلکې خلک یې د راټولېدو پرځای (اسلاماباد) غوسه وو. د افغانانو په تاریخي حافظه او عامه ذهنیت کې دا په یوه پوخ باور بدله شوې کلیشه Stereotype دی، چې افغانستان ته له پاکیستان څخه له شر او بدۍ پرته بل څه نه‌راځي.

دا لکه لمر څرګنده ده، چې افغان ولس له اوسنۍ استبدادي واکمنۍ څخه بېزاره و ستومانه دي، خو ان د همدغې واکمنۍ په وړاندې سیاسي یا پوځي مبارزه هم د پاکیستان له لارې نه‌غواړي. په افغانستان کې اوس تر ټولو بدنامه او خطرناکه ټاپه د پاکیستانیت او پاکیستان‌دوستۍ ده. د کابل د واکمنۍ په وړاندې د وسلوالو مخالفانو لپاره لا پخوا پاکیستان د ځای او امکاناتو ورکولو لپاره شین څراغ بنوولی وو، خو په دې اړه د افغانستان د خلکو حساسیت ښايي یو لامل و، چې دغو ډلو ډلګیو هلته د ځای ځایګي غوره کولو ته زړونه ښه نه‌کړل.

ښايي پاکیستان په دې خبر نه‌وي، چې دا ځل یوازې په افغانستان کې د حکومتونو د ادلون بدلون خبره مطرح نه‌ده، بلکې کیسه یوڅه لویه ده. هر بدلون به په دومره لویه جغرافیا کې پېښیږي، چې پاکیستان یې هم له تاوه خوندي پاتېدلای نه‌شي. د نړیوالو زبرځواکونو ستراتیژیکي سیالۍ اوس داسې دي، چې په سیمه کې د نیابتي ترهګرو ډلو ځای‌پرځای کېدل یې د لومړي پړاو په توګه تر افغانستان زیات پاکیستان پر اور اړولی دی. پاکیستان ښايي خبر وي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

چي دا پوازې پاکستاني طالبان نه‌دي، چي پاکستان ګواښي، بلکي د داعش و القاعدې په ګډون هلته درجنونه نورې ډلې هم  هلته ځای‌پرځای شوي، چي نړیوالي موخې و اجنداوې لري. پاکستاني پوځ و حکومت نور په هغه سېک کي نه‌دی چي دوی د هند او افغانستان په وړاندې وجنګوي او پخپله یې له شتون څخه ګټه پورته کړي. اوس په ریښتیا دغه دیو له بوتل څخه راوتلی دی.

## پاکستان ولي وارخطا دی؟

هیندوستان، چین، روسیه و ایران د خپلو ګټو لپاره په چټکی سره پر افغانستان واکمني ډلې ته نږدې کېږي. په هیند کي د طالبانو د بهرنیو چارو د وزیر هرکلي د پاکستان پوستین ته سپېره ورخوشي کړې ده، په تېره بیا چي پاکستان په دې هم پوهېږي، چي پر واکمنو د سیاسي پانګوني یوه پټه سیالي د انګریز – امریکایي ټلوالي له لوري له یوې‌خوا او د روسیې، چین، هیند، ایران او ان منځنی اسیا د ټلوالي له لوري له بلې‌خوا په شدت روانه ده. ټول غواړي کابل ته نږدې شي. امریکاضد ټلوالي په دې برخه کي نوې تیوري رامنځته کړې ده، دوی وایي: پرکابل واکمن که هرڅوک دي، خو که امریکا یې زموږ په وړاندې کارولی شي، موږ یې چي په ګاونډې کي پراته یو، ولي یې د ځان په ګټه ونه‌کارولای شو؟ روسیې خو له ډېرې بېړې د لومړني او یوازیني هېواد په توګه دغه واکمني لا په رسمیت وپېژندله، هیندوستان خپل مناسبات تر سفارتي بریده لوړ کړل.

هیند له هر کابل میشتي حکومت سره مناسبات غواړي او که دا حکومت د پاکستان ضد وي یا د پاکستان د ضدیت اکټ وکړلای شي، خو نورعلی نور.

دا چي د دې واکمنی په اړه د افغانستان خلک څه نظر لري؟ د ښځو حقوق او په لوی سر کي بشري حقونه څنګه کېږي؟ په دې اړه هیڅوک څه نه‌وایي. یویشتمه پېړۍ ده او سیاستونه له اخلاقو، ارزښتونو او عواطفو تش دي.
په دې لویو سیالیو کي پاکستان بې‌برخي و سرګردان پاتي دی. هغه پاکستان چي اوس نو د دې سیالیو د یوه لوري له خوا هم کومه ټیکه اخیستلای نه‌شي، بلکي خپله خاوره یې هم د دې سیالیو په اور کي سوزي.

پاکستان د لوبې دې پېچلتیا ته دومره وارخطا دی، چي د لومړي ځل لپاره یې په رسمي څرګندونو کي په افغانستان کي د واکمنی د بدلون هیله څرګنده کړې ده.

د  پاکستان دا هیله به ځکه پوازې هیله پاتي شي، چي:

اول: په افغانستان کي د حکومت بدلول یا ساتل اوس نو د پاکستان تر توانه پورته خبره ده.

دویم: د پاکستان د تېرې نیمي پېړۍ چلند افغانانو ته داسي تجربې پرېښي، چي که مري هم، د پاکستان له لاس څخه د ژوند اوبه نه‌څښي.

دریم: حقیقت دا دی، چي په افغانستان کي هر حکومت هغه وخت مشروعیت موندلای شي، چي د رامنځته‌کېدو اراده یې د افغانستان ملت کړې وي. د یوه ملي اساسي قانون له مخي یې ټاکلی وي او پر  هغه د نظارت مسئولیتونه او صلاحیتونه یې معلوم وي.

که په افغانستان کي حکومت بدلیږي، نو ښایي دا هڅه د افغانستان ملت وکړي، پر ته له دې چي داسي یوه هڅه له پاکستان، ایران یا بل هېواد څخه راوټپل شي.  د افغانستان ولس به ژر یا روسته خامخا دا کار کوي،  په تېره بیا که ولس ډاډمن شي، چي استبدادي واکمنی به پاکستان کي د بیا ځلي پناه‌اخیستني و ځالي جوړوني امکانات بایللي دي.
پاکستان ښایي اوس پوهېدلای وي، چي ستونزه د ده په چلند کي ده. تر هغو چي پاکستان د افغانستان په وړاندې د ستراتیژیک عمق او  Forword Policy  یا راښېښېدونکي وړاندې راتللو سیاست بدل نه‌کړي، په ارګ کي هره واکمنی به یې په دوښمنو بدلیږي، ولو که د دوی له مدرسو څخه فارغان هم وي.

پاکستان په تېره نیمه پېړۍ کي په ډلو ډلګیو او  افغانستان ضد وسله‌والو پانګونه کړې ده. هیڅکله یې د افغان ملت او ملي – مشروع حاکمیتونه باور وړ بللي نه‌دي ، ځکه خو پاکستان دوښمني اوس په افغانستان کي د ملي فکر زړی جوړوي.

پاکستان د افغانستان په ضد پنځوس کاله نړیوالي جګړې په ټېکه اخیستي او ځان یې پرې پړسولی، په دې لوبه کي یې د پینځو نسلونو په ګډه تاریخي حافظه کي د ځان په وړاندې د دوښمنی او بدبینی سونامي راپاڅولې ده، چي اوس یې خپله هم په چاره نه‌پوهیږي.  د پاکستان پوځي واکمنو هغه خونړي جنګونه او ظلمونه چي تر دیورند پورې غاړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راللیرلو مخکي په ځیر و لولئ

پښتنو او بلوڅو پرضد کړي، هاغاړه يي د افغانانو لپاره طبيعي او هويتي همدردي پياوړې کړې ده. ځکه خو په دې سيمو کې نه پاکيستاني پوځ خوندي دی او نه يي پوليس.

پاکيستان په تېرو پينځو لسيزو کې د افغانستان په وړاندې د خپلې دوښمنۍ سياست د دين تر څادر لاندې پرمخ وړ، ځان ته يي د اسلام کلا ويل او هره ډله يي افغانستان ته د جهاد په نامه رااستوله. اوس نو کيسه سرچپه شوه، نه يوازې دا چې د شته واکمنو په وړاندې له دې حربې څخه ګټه اخيستلای‌نه‌شي، چې پخپله هم د جهادي او ديني دوښمنۍ څخه کړيږي. داسي دوښمني، چې له خپلو مدرسو يي فارغان دي او تکفير کولای يي هم نه‌شي. د پاکيستاني طالبانو مدرسي او استاذان د پاکيستان په سياسي بنسټ (استېبلېشمينټ) کې خورا مهم ځای لري.

پاکيستان اوس په افغانستان کې د واکمنی د بدلون لپاره نه د تکفير وسله کارولای شي او نه هم د لرو برو افغانانو ترمنځ کوم اعتبار ورپاتې دی.

پاکيستان له ډېرې ناهيلۍ او وارخطايي څخه په افغانستان کې د واکمنۍ د بدلون غوښتنه کوي، خو ښايي په دې پوه شي، چې که د ملت په اراده هر مشروع او ملي حاکميت راشي، د پاکيستان په وړاندې به يې ترهغو ذهن و نظر بدل نه‌شي، چې پاکيستان د افغانستان په اړه خپل چلند بدل کړی نه‌وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ